دافغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# مطبوعاتی خبرتیا

**د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د جمهوری ریاست اته کاندیدان نقدی جریمه کړل.**

د زمری ۱۷مه، ۱۳۸۸

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون (ECC) د جمهوری ریاست پر اتو کاندیدانو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د شکایاتو له امله چې د خپلو انتخاباتی کمپاینونو د دوهم لنډ مهالی مالی راپورنو په وړاندی کولو کی د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د چنګاښ تر ۲۷مې پاتې راغلی وو، د جریمو او اخطاریو وضع کولو اعلان وکړ.

| د جمهوری ریاست کاندیدان | د وضع شوی جریمی اندازه (افغانی) |
|---|---|
| نصرالله ارسلایی | ۷۰۰۰۰ |
| عبدالحسیب آرین | ۵۰۰۰ |
| عبدالمجید صمیم | ۲۰۰۰۰ |
| غلام محمد ریګی | ۵۰۰۰ |
| محمد نذیر انیس | ۵۰۰۰ |
| غلام احمد یما | ۲۰۰۰۰ |
| بشیر احمد بیژن | ۵۰۰۰ |
| عبدالغفور زارع | ۵۰۰۰ |

د جمهوري ریاست پورتني کاندیدان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د شکایت له امله د خپلو انتخاباتي کمپاینونو د دوهم پړاو مالي راپورونو په وړاندي کولو د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د چنګاښ تر ۲۷مې پاتې راغلي وو جریمه کړي او د هغوی په وړاندی یی اخطاریې وضع کړی. د دی کاندیدانو له جملی څخه دری تنو یی اصلاځپل مالی راپورونه نه وو وړاندی کړی چی هر یو ۲۰۰۰۰ افغانی جریمه شو. او پاتی نورو یی خپل مالی راپورونه د ټاکلی مودی څخه ورسته د ټاکنو کمیسیون ته سپارلی وو چی هر یو لږ تر لږه ۵۰۰۰ افغانی جریمه شوی. نصرالله ارسلایی د خپلو سپکو ویناوو له امله چی انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د واکونو په اړه کړی، چی د کاندیدانو د کاری طرزلعمل په خلاف دی، ۵۰۰۰۰ افغانی اضافی جریمه شو. دا پریکړی به د زمری په ۲۲مه د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په ویب پاڼه کې خپرې او د خلکو لاس ته ورسیږی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون به د جمهوری ریاست د کاندیدانو لنډ مهالی مالی راپورونو د خبرونی ارزیابی ته د ټاکنو تر پاتی مودی پوری ادامه ورکړی.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهربانی وکړی په لاندی شمیره اړیکه ونیسی.**

**احمد مسلم خرم**
Ahmad.muslim@ecc.org.af
+93 (0) 798188605